لومړۍ برخه

# خدای پیژندنه او توحید

لیکوال: حضرت آیة الله  مکارم شیرازي

**Download from:aghalibrary.com**

## ۱. د متعال خداي وجود

مونږ عقیده لرو: خداي تعالی د ټولو مخلوقاتو او کائناتو پیداکوونکے دے او د هغه د علم قدرت او عظمت آثار د نړۍ په ټولو موجوداتو کښې ښکاره ده. زمونږ په وجود کښې دننه، په ژوندي سارو او بوټو، د آسمان په ستورو بره عالم او په هر ځاغي کښې ځرګند دے.

مونږ عقیده لرو: چې هر څومره چې د دې نړۍ په مخلوقاتو کې زیات فکر وکړو د هغه پاک ذات په عظمت او د هغه د علم او قدرت په پراختیا لا ډیر پوهیږو او د انساني علم او ټکنالوجۍ په پرمختګ سره هره ورځ د هغه د علم او حکمت نوې ورونه مونږ ته پرانستل کیږي، او زمونږ د فکر اړخونه لا پراخوي او دا تفکر به له هغه ذات سره زمونږ د زیاتیدونکې مینې سرچینه شي.او هره شیبه مونږ له هغه ذاته سره لا نزدې کوي او دهغه د جلال او جمال په رڼا کې مو ډوبوي.

قرآن مجید فرمایی «وَفِي الأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلا تُبْصِرُونَ؛ او په ځمکه کې د یقین د پلټونکو لپاره نښې دي او ستاسو په خپل وجود کې هم (نښې دي) آیا نه ګورئ؟ «إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأُولِي الأَلْبَابِ* الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ؛[1] په رښتیا سره چې د آسمانونو او ځمکې په پیدایښت اود شپې او ورځې په تګ راتګ کښې د عقل منانو لپاره (روښانه) نښې دي ـ د هماغه کسانو لپاره چې خدای تعالی په ولاړ ه او په ناسته کې او هغه وخت چې په ډډه ملاست وي یادوي،او د آسمانونو او ځمکې د پیدایښت په اسرارو فکر کوي (او وایي) ای خدایه!هیڅکله دې دا چتې نه د ي پیدا

---

۱. ذاریات سوره ۲۰ او ۲۱ ایتونه

کړي!»[۱]

## ۲. د هغه د جمال او جلال صفتونه

مونږ عقیده لرو چې:د خدای تعالی ذات له هر ډول عیب او نیمګړتیا پاک دی او په ټولو کمالاتو پسولل شوی دی بلکه هغه کمال مطلق او مطلق کمال دی.او په بله معنا په دې نړۍ کې چې هر کمال او ښکلا ده دهغه له پاک ذاته سرچینه اخلي.

«هُوَ اللَّهُ الَّذِي لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ * هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الأَسْمَاءُ الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ»؛ هغه، هغه خدای دی  چې له هغه پرته بل معبود نیشته، اصلي واکمن او څښتن هغه دی،له هر عیبه پاک او سپیڅلی دی، په چا ظلم نه کوي، امنیت ورکوونکی دی. په هر څه څارنه کوي،ماته نه خوړونکی قدرتمن دی چې په خپلې نافذې ارادې سره هره چاره اصلاح کوي، هغه د عظمت وړ دی، او سپیڅلی دی له هغه څه چې ورسره ساري ټاکل کیږي ـ هغه خالق خدای دی، بې ساری پنځوونکی، او (بې مثاله) انځورګر،د هغه لپاره نیکې نامې (اود کمال هر ډول صفتونه) دي، هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي دهغه تسبیح وایی او هغه عزیز او حکیم دی»[۲]

او دا د هغه د جمالي او جلالي صفتونو یوازې یوه برخه ده .

## ۳. پاک ذات یې بې پایه دی

---

۱. آل عمران سوره ۱۹۰ او ۱۹۱ ایتونه

۲ . حشر سوره ۲۳ او ۲۴ ایتونه

مونږ عقيده لرو چې:هغه له هر نظره بې نهايته وجود دی: د علم او قدرت له نظره د ابدي او ازلي ژوند له نظره او له همدې امله په زمان او مکان کې نه ځايېږي، ځکه چې زمان او مکان هر څه چې وي محدود دي،خو په عين حال کې په هر ځای او هر وخت کې موجود دی ځکه چې تر زمان او مکان لوړ دی. «وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَهٌ وَفِي الأَرْضِ إِلَهٌ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ؛ هغه کس دی چې په آسمان کې معبود دی او په ځمکه کې معبود،او هغه حکيم او عليم دی»[1] وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ؛ هغه له تاسو سره دی په هر ځای کې چې وئ او خدای تعالی د هغه څه چې تاسو يې کوئ کتونکی دی»[2]

هو هغه مونږ ته نږدې دی، هغه زمونږ په روح او ځان کې دننه دی او هغه په هر ځای کې دی، او په عين حال کې مکان نه لري «وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ؛ او مونږ هغه ته دهغه د زړه تر رګه زيات نږدې يو»[3]

«هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ؛ هغه دی پيل او پای، او ښکاره او پټ او هغه په هر څه پوه دی»[4]

په دې اساس که د قرآن په ځينو ايتونو کې لولو چې «ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ؛ هغه د عرش خاوند او د سترتوب او عظمت څښتن دی»[5]

(دلته د عرش مطلب لوړ شاهانه تخت نه دی)او همداراز که په بل ايت کې لولو چې «الرحمن على العرش استوى؛ رحمان خدای په عرش ځای پر

---

١. زخرف سوره، ٨۴ ايتونه

٢. حديد سوره ۴ ايت

٣. ق سوره ١٢ ايت

۴ . حديد سوره ٣ ايت

۵. بروج سوره ١۵ ايت

ځای دی»[۱]

د دې مطلب هيڅکله دا نه دی چې هغه خاص مکان او ځای لري، بلکه په ټولې مادي نړۍ او ماورای طبيعت د هغه واکمني ثابتوي. ځکه چې که دهغه لپاره د يو خاص ځای قائل شو هغه به محدود کړو او دهغه لپاره به د مخلوقاتو صفات ثابت کړو، او هغه به مو د نورو مخلوقاتو په شان ګڼلی وي، حال دا چې «لَيْسَ كَمِثْلِه شَيْءٌ؛ هيڅ څيز دهغه په شا ن نه دی»[۲] «وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ؛ د هغه لپاره هيڅ ساری او مثال نيشته»[۳]

## ۴. هغه جسم نه دی او هيڅکله نه ليدل کيږي

مونږ عقيده لرو چې:خدای تعالی هيڅکله په سترګو نه ليدل کيږي، ځکه چې په سترګو دليدل کيدو معنا دا ده چې جسم لري، ځای، محل، رنګ شکل او لوری لري، او دا ټول د مخلوقاتو صفات دی، او خدای تعالی تر دې لوړ دی چې د مخلوقاتو صفتونه ولري.

په دې اساس د خدای د ليدلو عقيده يو ډول په شرک ککړتيا ده «لا تُدْرِكُهُ الأبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ؛

سترګې هغه نهويني خو هغه ټولې سترګېويني او هغه بخښونکی او پوهه دی»[٤]

له همدې امله کله چې د بني اسراييلو پلمه جوړوونکوله موسی(ع)د خدای

---

۱. د قرآن له ځينو ايتونو معلومېږي چې د خدای کرسي په ټولو آسمانونو او ځمکې خپره ده په دې اساس د هغه عرش په ټولې مادي نړۍ دی.«وسع کرسيه السموات والارض» (بقره سوره ۲۵۵ ايت)

۲. شوری سوره ۱۱ آيت

۳. توحيد سوره ۴ ايت

۴. انعام سوره ۱۰۳ ايت

د ليدلو غوښتنه وکړه او وې ويل :«وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً؛ هيڅکله په تا ايمان نه راوړو تر هغه وخته چې خدای ښکاره ووينو»[1] موسی هغوی کوه طور ته بوتلل او د هغوی غوښتنه يې تکرار کړه، او دخدای له لوری يې داسې ځواب واوريده «وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَنْ تَرَانِي وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ؛ هيڅکله به ما ونه وينې خو غره ته وګوره که په خپل ځای ودريده ما به وګورې او کله يې چې رب په غره جلوه وکړه، هغه يې دخاورې په شان کړ، او موسی(ع) بيهوشه په ځمکه پريوته، کله چې په هوش کې راغی عرض يې وکړ:ای خدايه! ته پاک يې له دې چې په سترګو وليدل شې، زه تاته جاروځم او زه له لومړيو مومنانو څخه يم »[2]

او په دغه کيسې سره ثابته شوه چې خدای تعالی هيڅکله نه شي ليدل کيدی.

مونږ عقيده لرو چې:که په ځينو اسلامي روايتونو او ايتونو کې د خدای د ليدلو خبره راغلې ده د ليدلو مطلب يې د زړه په سترګو او باطني شهود دی، ځکه چې هميشه د قرآن ايتونو د يو بل تفسير کوي.(القرآن يفسر بعضه بعضا)[3]

---

۱. بقره سوره **۵۵** ايت

۲. اعراف سوره **۱۴۳** ايت

۳. دا يوه مشهوره جمله ده او له ابن عباسه نقل شوې ده،خو دا معنا په نهج البلاغې کې له امام علی(ع) په يو بل ډول راغلې ده : «ان الكتاب يصدق بعضه بعضا...» (نهج البلاغه، ۱۸خطبه) او په يو بل ځای کې فرمايي: «و ينطق بعضه ببعض و يشهده بعضه علی بعض» (۱۰۳ خطبه)

پر دې سربېره حضرت علی (ع) د یو کس په ځواب کې چې له هغوي يې وپوښتل «یا امیر المومنین هل راءیت ربک» ای امیر المومنینه! ایا تا خپل رب لیدلی دی؟ وفرمایل: (ااعبد ما لا اری؛ ایا څوک چې مې نه دی لیدلی عبادت يې وکړم؟»بیا يې زیاته کړه: «لا تدرکه العیون بمشاهدة العیان، ولکن تدرکه القلوب بحقائق الایمان؛ سترګې هیڅکله هغه په ښکاره نه ویني خو زړونه د ایمان په طاقت سره هغه درک کوي»[1]

مونږ عقیده لرو چې:دخدای لپاره دمخلوقاتو د صفاتو قایل کیدل منجمله دخدای لپاره دمکان، لوري، جسمیت او لیدل کیدو عقیده دخدای له معرفته د لیرې کیدو اوپه شرک د اخته کیدو سبب کیږي،هو هغه تر ټولو ممکناتو او دهغوی تر صفتونو لوړ دی او د هغه په شان یو څیز هم نیشته.

## ۵. توحید، د اسلام د ټولو تعلیماتو روح دی

مونږ عقیده لرو چې :د معرفة الله په هکله تر ټولو مهمه مسئله، د توحید او دهغه د پاک ذات د یو والي پیژندل دي،په حقیقت کې توحید یوازې د دین یو اصل نه دی بلکه د ټولو اسلامي عقایدو روح او پانګه ده،او په صراحت سره ویلی شو چې (د اسلام اصول او فروع په توحید کې جوړیږي) په ټولو ځایونو کې د توحید او یو والي خبره ده، او دپاک ذات د وحدت او د خدای د صفاتو او افعالو توحید او په بل تفسیر ویلی شو چې د انبیاوو د دعوت وحدت، د الهی دین یو والی، زمونږ د قبلې او آسماني کتاب یووالی،د ټولو انسانانو لپاره د الهی قوانینو او احکامو وحدت،او اخر دا چې د مسلمانانو د صفونو وحدت او د قیامت د ورځې وحدت.

---

۱. نهج البلاغه ۱۷۹ خطبه

له همدې امله قرآن له الهی توحید هر ډول کړیدل او شرک ته ګروهنه، نه بخښل کیدونکې ګناه ګڼي «إِنَّ اللَّهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا؛ خدای تعالی(هیڅکله)شرک نه بخښي، او له هغې لاندې هر څه چې وغواړي (او غوره یې وګڼي) بخښي،او کوم کس چې د خدای لپاره ساری وټاکي لویه ګناه یې کړې ده.[1]«وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ؛ تا ته او له تا مخکې ټولو پیغمبرانو ته وحي شوې ده چې که مشرک شوې ټول عملونو دې تباه کیږي، اوله زیانمنو به وې»[2]

## ۶. د توحید څانګې

مونږ عقیده لرو چې: د توحید زیاتې څانګې دي چې تر ټولو مهم یې لاندینی څلور څانګې دي:

### الف: د ذات توحید

یعنې دهغه پاک ذات یو اویګانه دی او هیڅ ساری او مثال نه لري.

### ب: د صفاتو توحید

یعنې د علم قدرت، ازلیت، ابدیت او داسې نور صفتونه ټول دخدای په ذات کې دي او دهغه د ذات عین دي (یعنې له ذاته جدا نه دي) نه د مخلوقاتو په شان چې صفات یې له یو بله جدا دي، البته د خدای تعالی له

۱. نساء سوره، ۴۸ ایت

۲. زمر سوره، ۲۵ ایت

صفاتو سره د هغه د ذات عینیت فکرى ظرافت او دقت ته اړتیا لري.

ج: د افعالو توحید

یعنې هر کار او حرکت او هر اثر او نښه چې په هستۍ کې موجوده ده ټول د خداى په ارادې دي« اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ؛ خداى تعالى دهر څیز پیدا کوونکى،او پر هر څه څارونکى او ساتونکى دى [1]

«لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ؛ د ځمکې او آسمانونو کنجیانې له هغه سره دي (او دهغه په قدرت کې دي)[2]

هو، «لا موثر فى الوجود الا الله؛بې دخداى له پاک ذاته هیڅ اغیزمن او موثر په نړۍ کې نیشته»

خو د دې خبرې مطلب دا نه دى چې مونږ په خپلو عملونو کې مجبوره یو، بلکه د دې په اړوند مونږ په خپلو فیصلو او ارادې کې ازاد یو«إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُوراً؛ مونږ هغه (انسان) هدایت کړ (لاره مو هغه ته وښودله) که شاکر جوړیږي (او منې یې) او که کفران کوي (سرغړونه کوي)»[3]

«وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلا مَا سَعَى؛ او د انسان لپاره بې له خپل عمله بل څه نیشته»[4]

دا قرآنې ایتونه په ډاګه ښیى چې انسان د ارادې ازادي لري، خو له دې امله چې د ارادې ازادي او د کارونود کولو قدرت خداى تعالى مونږ ته راکړى

---

١. زمر سوره ٦٢ ایت

٢. شورى سوره ١٢ ایت

٣. انسان سوره ٣ ایت

۴ . نجم سوره ٣٩ ایت

دی، نو زمونږ اعمال په هغه تکيه لري بې له دې چې دا استناد زمونږ دکارونو په وړاندې زمونږ مسووليت کم کړی ـ دقت وکړئ ـ
هو، هغه ا راده کړې ده چې مونږ خپل عملونه په ازادۍ سره وکړوچې له دې لارې مونږ وازمايي او د تکامل په لاره کې پر مخ لاړ شي ځکه چې د ارادې په ازادۍ او په اختيار سره د خدای د اطاعت د لارې په وهلو سره د انسان تکامل کيږي، ځکه چې جبري او له اختياره بهر کار نه د چا د ښه والي دليل کيدی شي او نه د بدوالي نښه!
اصولا که مونږ په خپلو عملونو کې مجبور وی،نه به د انبياوو بعثت او د آسماني کتابونو نازليدو څه مفهوم لرلو او نه به ديني احکامو او تکاليفو او تعليم او تربيت، همداراز به الهی انعام او سزا هم څه مفهوم او مطلب نه درلود.
دا هماغه څيز دی چې مونږ د اهل بيتو- عليهم السلام- له مکتبه هم زده کړي دي چې مونږ ته يې فرمايلي دي : نه مطلق جبر صحيح دی او نه مطلق تفويض او مخلوق ته د چارو سپارل،بلکه د دغو دواړو په منځ کې يو څيز دی «لا جبر ولا تفويض ولکن امر بين امرين»[1]

د : په عبادت کې توحيد
يعنې؛ عبادت يوازې له خدای سره مخصوص دی او د هغه له پاک ذات پرته بل هيڅ معبود نيشته،دتوحيد دا څانګه دهغه تر ټولو مهمه څانګه ګڼل کيږي، او الهي پيغمبرانو زياتره په هغې تکيه کړې ده: «وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ؛ هغوي (پيغمبرانو ته) بې له دې بل امر ورنه کړل شوچې

۱. اصول کافي، ۱ ټوک ۱۲۰ مخ (باب الجبر و القدر و الامر بين الامرين)

یوازې دخدای عبادت وکړي،او خپل دین د هغه لپاره خالص کړي او له شرکه توحید ته ستانه شي...او دا دی دخدای پایداره دین»[۱]
د اخلاقو او عرفان د تکامل د پړاوونود وهلو لپاره، توحید تر دې هم ژور کیږي او هغه ځای ته رسیږي چې انسان  باید یوازې په خدای پورې زړه وتړي،په هر ځای کې هغه وبلي او بې له هغه په بل څه فکر ونه کړي او هیڅ څیز دهغه فکر  له  خدایه په ځان اخته نه کړي:«کلما شغلک عن الله فهو صنمک؛ هر څیز چې تا په ځان مشغول کړي اوله خدایه دې لیرې کړي، هغه ستا بت دی.» مونږ  عقیده لرو چې  د توحید ځانګې یوازې دا څلور نه دي، بلکه دمالکیت توحید(یعنې هر څه دخدای دی) «لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ [۲] او د حاکمیت توحید  یعنې قانون یوازې د خدای قانون دی «وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ[۳] ټول  د توحید له ځانګو دي.

۷. مونږ عقیده لرو: چې د افعالي توحید اصل  په دې حقیقت ټینګار کوي چې هغه لویې معجزې او خارق العاده کارونه چې الهی پیغمبرانو کړي دي ټول «باذن الله» و، لکه څرنګه چې قرآن مجید د حضرت مسیح(ع) په هکله فرمایی: «وَتُبْرِئُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ بِإِذْنِي؛ مادرزاده ړانده او په برص( لاعلاجه ناروغۍ) اخته کسانو ته دې د خدای په امر شفا ورکوله!او مړي به دې زما په امر ژوندي کول»[٤]

۱. بېنه سوره،۵ ایت
۲. بقره سوره ۲۴۸ آیت
۳. مائده سوره ۴۴ ایت
۴. مائده سوره ۱۱۰ ایت

او د سلیمان دیو وزیر په هکله فرمایی: قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهُ قَالَ هَذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي؛ هغه کس چې دآسماني کتاب څینې علم ورسره و وویل: مخکې له دې چې سترګې ورپوې، زه هغه (د ملکه سبا تخت) تاته راوړم او کله چې (سلیمان) هغه د ځان په نزد ثابت او مستقر ولیده، وې ویل: دا زما د رب فضل (او اراده) ده»[1]

په دې اساس د خدای په امر او اراده حضرت مسیح(ع) ته د لاعلاجه ناروغانو د شفا او د مړیو د ژوندي کولو نسبت ورکول چې په ډاګه په قرآن کې راغلي دي، عین توحید دی.

## ۸. د خدای پرښتې

مونږ د الهي پرښتو په وجود عقیده لرو چې هره یوه یې خاص ماموریت لري، څینې یې انبیاوو[2] ته د وحې په رسولو مامورې وې. او څینې یې د انسانانو د عملونو د ساتلو مامورې.[3]

او څینې د روحونو د اخستلو ماموریت لري .[4]

او څینې له استقامت لرونکو مومنانو سره په مرسته مامورې .[5]

او څینې په جنګونوکې مومنانو ته په مدد رسولو مامورې.[6]

او څینې دسرکښو قومونو د سزا مامورې[1] او دخلقت د نړۍ په نظام کې نور

---

۱. نمل سوره ۴۰ ایت
۲. بقره سوره ۹۷ ایت
۳. انفطار سوره ۱۰ آیت
۴. اعراف سوره ۳۷ آیت
۵ . فصلت سوره ۳۰ آیت
۶. احزاب سوره ۹ ایت

مهم ماموريتونه لري.

بې له شکه له دې امله چې دا ټول ماموريتونه د خدای په امر او د هغه په مرسته او قوت دي له افعالي توحيد او د ربوبيت دتوحيد له اصل سره هيڅ منافات نه لري.بلکه پر هغوتاکيد دی.

ضمنا له دې ځايه روښانه کيږي چې د پيغمبرانو معصومانو او پرښتو شفاعت، له دې امله چې د خدای په امر دی عين توحيد دی «مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ؛ بې د خدای له امره هيڅ شفاعت کوونکی نيشته»[۲]

## ۹: عبادت يوازې له هغه سره مخصوص دی

مونږ عقيده لرو چې: عبادت يوازې د خدای له پاک ذات سره مخصوص دی (لکه څرنګه چې د عبادت د توحيد په مسله کې اشاره وشوه) نو که هر څوک بې له هغه د بل چا عبادت وکړي «مشرک» دی، د ټولو انبياوو بلنه هم په دې مسئله متمرکزه ده «إعْبُدُ اللهَ ما لَكُمْ مَنْ اَلهِ غَيْرُهُ؛ دخدای پرستش وکړئ چې بې له هغه بل معبود نه لرئ»

دا هغه خبره ده چې په قرآن مجيد کې څو څو ځله له پيغمبرانو نقل شوې ده.[۳]

جالبه ده چې مونږ مسلمانان هميشه په خپلو لمنځونو کې د حمد سورې د تلاوت په وخت دا مهم اسلامي شعارتکراروو«اياک؛يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو»

روښانه ده چې دخدای په امر او اراده د انبياوو او پرښتو شفاعت چې د

---

۱. هود سوره ۷۷ آيت

۲. يونس سوره ۳ آيت

۳. اعراف سوره ۷۳، ۶۵، ۵۹، ۸۵ او .....

قرآن په ایتونو کې راغلی دی  د عبادت په معنا نه دی.
همداراز له پیغمبرانو سره توسل په دې معنا چې له هغوي وغوښتل شي چې  د خدای له مقدس ذاته د توسل کوونکي لپاره د مشکل حل او هواری وغواړي،نه پرستش او عبادت ګڼل کیږی او نه له افعالي توحید یا د عباداتو له توحید سره منافات لري، او د دې مسئلې وضاحت به د نبوت په  بحث کې راشي.

## ۱۰. د هغه پاک ذات حقیقت پر ټولو پټ دی

مونږ عقیده لرو چې که څه هم د خدای تعالی د وجود نښې په ټولې نړۍ کې موجودې دي، خود خدای د ذات حقیقت هیچا ته نه دی روښانه،او هیڅوک دهغه د ذات تل ته نه شي رسیدی.ځکه چې د هغه ذات له هر نظره بې نهایته دی او مونږ له هر نظره محدود او متناهي یواو له همدې امله په هغه زمونږ احاطه ناممکنه ده .«أَلا إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُحِيطٌ؛ خبر اوسئ هغه په هر څه احاطه لر ي»[1]

«وَاللَّهُ مِنْ وَرَائِهِمْ مُحِيطٌ؛ او خدای تعالی په هغوي ټولو احاطه لري»[2]

به عقل نازی حکیم تا کی          به فکرت این راه نمي شود طی!
به کنه ذاتـش خرد بــرد پی          اگر رسد خــس  به قعر  دریـــــــا!

په مشهور نبوي(ص) حدیث کې لولو چې هغه حضرت هم فرمایل: ما عبدناک حق عبادتک و ما عرفناک حق معرفتک؛ مونږ ستا هغه  ډول چې ستا له ذات سره ښیی عبادت ونه کړ، او لکه څرنګه چې ستا د معرفت حق

---

۱. فصلت سوره، **۵۴** آیت
۲. بروج سوره ۲۰ ایت

دی ته ونه پيژندې!»[1] دلته غلط فهمي ونه شي، د دې خبرې معنا دا نه ده چې له دې امله چې د هغه په پاک ذات «له تفصيلي علمه» محرومه يو نو له اجمالي علم او معرفته هم لاس واخلو او يوازې د معرفة الله په باب کې د داسې الفاظو په ذکر چې هيڅ مفهوم زمونږ لپاره نه لري بسنه وکړو، دا هماغه د معرفة الله تعطيلول دی چې مونږ يې نه منو او په هغه عقيده نه لرو، ځکه چې قرآن ا و نور آسماني کتابونه د معرفة الله او د خدای د پيژندلو لپاره نازل شوي دي. د دې موضوع لپاره زيات مثالونه وړاندې کولی شو، مثلا مونږ د روح په حقيقت نه پوهيږو، خو بې له شکه له روحه اجمالی علم او پوهه لرو، مونږ ته پته ده چې روح موجود دی او د هغه اثار ګورو.

د امام محمد بن علی الباقر(ع) يو په زړه پورې حديث دی چې وې فرمايل: «کلما ميزتموه باوهامکم فی ادق معانيه مخلوق مصنوع مثلکم مردود اليکم؛ هر يو څيز چې په خپل فکر او وهم کې په ډيرې دقيقې معنا سره تصور کړئ، ستاسو مخلوق او د ذهن جوړ دی، او تاسو ته درګرځي (او خدای تعالی تر دې لوړ دی)[2]

له امير المومنين علی (ع) په يو بل حديث کې د معرفة الله دقيقه او نری لاره په ډير ښکلي او روښانه تعبير سره بيان شوې ده او فرمايی: لم يطلع الله سبحانه العقول علی تحديد صفته، ولم يحجبها امواج معرفته؛

سبحان خدای عقلونه دخپلو صفاتو له حدودو (تله) نه دي خبر کړي (او په عين حال کې يې هغوي له لازم معرفت او شناخت محجوب او محروم

---

۱. بحار الانوار، ۲۸ ټوک ۲۳ مخ

۲. بحار الانوار، ۲۲ ټوک ۲۹۳ مخ

کړي نه دي»[١]

## ١١. نه تعطيل نه تشبيه

مونږ عقيده لرو چې: لکه څرنګه چې دخدای د پیژندلو او د هغه د صفاتو د معرفت «تعطيل» غلط کار دی، د (تشبیه) په وادۍ کې پريوتل هم غلط او شرک الود کار دی، يعني نه شو ويلی چې هغه پاک ذات بلکل نه پيژندل کيږی،او مونږ دهغه معرفت ته لاره نه لرو، لکه څرنګه چې هغه له مخلوقاتو سره «شبيه» (ورته) نه شو ګڼلی ځکه چې یوه د «افراط» لاره ده او بله د «تفريط» - دقت وکړئ.

Download from:aghalibrary.com

---

١. غرر الحكم